د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

جمعه ١٦ ربيع الثاني ١۴۴١هـ　　٢٠١٩-١٢-١٣م　　گڼه: ح.ت.افغ ١۴۴١/٠۵

مطبوعاتي اعلاميه

# امريکا په افغانستان کې خپله ماتې د سترو دروغو تر شا پټه کړې ده

واشنګټن پوسټ ادعا کړې چې د افغانستان د جګړې په اړه يې ۲۰۰۰ پاڼې محرم اسناد تر لاسه کړي چې په افغانستان کې د تيرې ۱۸ کلنې جګړې واقعيت افشا کوي. د دې اسنادو محوري موضوع دا ده چې د امريکا ولسمشرانو، وزيرانو، ډيپلوماتانو او جنرالانو د افغانستان د جګړې په اړه حقيقتونه پټ کړي او د امريکا خلکو ته يې دروغ ويلي، تر څو خپله ناکامه جګړه بريالۍ وښيي.

که څه هم د دې اسنادو افشا کول، د افغانستان په هکله د امريکايي بنسټونو د خپل منځي سيالۍ يوه برخه نندارې ته وړاندې کوي، مګر موخه يې دا ده چې پر امريکايي نظاميانو باندې فشار راوړي ترڅو د طالبانو او امريکا ترمنځ د سولې له خبرو اترو سره مرسته وکړي. خو دا راپور د امريکا د سياست يو مهم اړخ بربنډوي، هغه دا چې دروغ، دوکه او د حقيقتونو پټول د پانګوالي سياست نه بيلېدونکې برخه ده او امريکا چې ددغې ايډيالوژۍ مخکښه ليږدوونکې ده، ياد مسايل يې تر ټولو ښه تمثيل کړي دي. ځکه د پانګوالۍ ايډيولوژۍ د يوه مشهور رهبر په وينا؛ د يوه دروغ د پټولو لپاره بايد زر ډوله نور دروغ جوړ شي.

پانګواله-ډيموکراسي د سياست ډګر د اوبو هغه حوض ته ورته بولي چې له ورګډيدو وړاندې بايد لومړی خپل د ارزښتونو، اخلاقو او صداقت لباس له تنه لرې کړي او په پراګماتيک ډول پکې لامبو پيل کړي. هو! د امريکا سياست يو ماکياوليستي سياست دی چې دوکه، وحشت، جنايت او له عامه افکارو سره لوبې، پکې ستر مهارت او لاسته راوړنه ګڼل کيږي.

امريکا له هماغه لومړي سره چې د افغانستان د اشغال اراده يې وکړه، لومړی ګام يې له سترو دروغو سره تړلی و. له ترهګرۍ او مخدره توکو سره مبارزه، د فساد له منځه وړل، ملت جوړونه او داسې نور هغه لوی دروغ وو چې د افغانستان اشغال يې ور باندې توجيه کړ. په داسې حال کې چې د وخت بهير او د دوی خپلو ژبو د دغه ښکېلاکګر او جنايت کاره موجود زر-رنګې او نفاق بربنډ کړ. لکه څنګه چې په دغه ريپوټ کې  د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکا د پخواني استازي جميز ډابينز مرکه د امريکا نفاق په ښه توګه بربنډوي: "موږ بې وزله هيوادونه نه اشغالوو، ترڅو هغوی شتمن کړو، موږ په دکتاتوريو باندې بريد نه کوو ترڅو هلته ډيموکراسي واکمنه کړو؛ بلکې موږ په بلواګرو او ناآرامو هېوادونو بريد کوو، ترڅو هلته سوله راولو او هغه څه چې روښانه دي، موږ په افغانستان کې په دغه ماموريت کې ناکام شوي يو."

په پايله کې، د افغانستان مسلمان ولس بايد دا درک کړې وي چې؛ هغه هيواد چې د راکړې ورکړې او سياست بنسټ يې له افغانستان سره په دروغو، فريب او جنايت باندې ولاړ وي، په ټنده يې بايد د نفاق ټاپه ولګول شي؛ نه د ستراتيژيک ملګري. په تيرو ۱۸ کلونو کې د امريکا ژمنو له دروغو او غولولو پرته بل څه له ځان سره نه لرل. د فساد او مخدره توکو د محوه کولو پروني دروغ، د سولې د ټينګښت او د جګړې د پای ته رسولو د سبا له دروغو سره هيڅ توپير نه لري.

نو د افغانستان مسلمان ولس بايد د دروغ پالې ډيموکراسۍ او د هغې د اشغالګرو لېږدوونکو پر وړاندې ودريږي او د سولې په شان په امريکايي پروسو کې له ورګډيدو څخه ځان وساتي، ترڅو امريکا د هغې خپل دروغ پخپله تباه کړي او د پخواني شوروي اتحاد په شان، د افغانستان خلک د امريکا د ماتې د جشن ورځ هم په خپله کليزه کې شامله کړي. دا چاره هغه وخت ممکنه ده چې د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس د چارو واګې له اشغالګرو څخه په خپل لاس کې واخلي او د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ دولت رامنځ ته کړي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**